# MS POWER POINT 2016

# په پښتو ژبه

لیکوال: محمدنور مسلم

mnoormuslim@gmail.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# Microsoft PowerPoint 2016

پاور پواینټ پروګرام د مایکرو سافټ افیس پروګرامونو یوه برخه ده، چې د افیس (اداري) پروګرامونو په ټولګه کې وړاندي کیږي. د دې پروګرام په مرسته کولای شو د خپلې خوښې Presentation جوړ او د پروجکټور (Projector) پر مټ یې د لویو صفحو یا پردو پر مخ، په لویو سالونونو کې یا په ځانګړو مانیټورونو کې خپاره کړو تر څو د نورو په اختیار کې ورکړل شي.

پاور پواینټ پروګرام له بېلا بېلو لارو خخه خلاصیږي، چې زیاتې کارېدونکې لارې یې په لاندې ډول دي:

☞ **Start Menu → All Program → PowerPoint 2016**

☞ **RUN ( + R) → Write in Text Box (PowerPNT)**

د پاور پواینټ پروګرام د صفحې (Window) برخې عبارت دي له:

☞ **Title bar**

☞ **Ribbon (Tabs, Commands)**

☞ **Status bar**

☞ **Scroll bar**

په ټایټل بار (Title bar) کې هغه نوم چې فایل ته ورکړل شوی وي ښکاري. لکه په تصویر کې چې د فایل نوم PowerPoint 2016 دی.




په Ribbon کې د پاور پواینټ پروګرام ټولې مینوګانې (Tabs) او اړوند کمانډونه موجود دي.




Status bar کې د فایل په اړه معلومات ښکاري چې خومره سلایډونه دي، اوس کوم سلایډ ښکاري او دا ډول نور...



(c) ketabton.com: The Digital Library



**Scroll bar پە فایل کې لە یو ځای څخە بل تە پە لنډە توګە د تللو لپارە کارول کیږي، چې پە دوە ډولە (افقي او عمودي) دی.**



## فایل ټېب (File Tab)

**لە نوم څخە یې ښکاري چې د فایل اړوند کمانډونە پە کې موجود دي، د فایل ټېب کمانډونە پە لاندې ډول دي:**

**Info, New, Open, Save, Save as, Print, Share, Export, Close, Account, Options**

**Info: پە Info کې د فایل پر اړە معلومات ښکاري، چې لیکوال یې څوک دی، د فایل اندازە څومرە دە، څو سلایډونە دي او دا ډول نور معلومات. د دې ترڅنګ لە Info څخە فایل تە Password هم ورکول کیږي.**

**New: لە New سره نوی فایل (New Presentation) خلاصیږي.**

**Open: لە Open سره د پاور پواینټ پروګرام هغە فایل چې پە کمپیوټر کې ذخیرە وي خلاصیږي.**

**Save: لە Save سره خلاص شوی فایل پە کمپیوټر کې ساتل (ذخیرە) کیږي.**

**Save As: لە Save As سره خلاص شوی فایل پە بل نوم یا ډول (Type) سره ساتل کیږي.**

**Print: لە Print سره خلاص شوی فایل Print (پر کاغذ باندې چاپ) کیږي.**

**Share: فایل د برېښنالیک (Email) پە مرستە لە بل چا سره د شریکولو یا یوې وېب پاڼې (Website) تە د پورتە کولو لپارە کارول کیږي.**

**Export: Export د فایل د ډول بدلولو لپارە کارول کیږي، د بېلګې پە ډول PDF یا XPS تە بدلول.**


**Close: د خلاص شوي فایل د بندولو لپارە کارول کیږي.**

**Account: د Account پە مرستە لە مایکروسافټ حساب (Account) څخە پە MS PowerPoint کې ګټە اخیستل کیږي.**

**Options: د MS PowerPoint پروګرام ټول تنظیمات د Option پە مرستە برابریږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## Home Tab




### Clipboard ګروپ:


Paste: د Paste په مرسته د Clipboard (Cut يا Copy شوي) ليکنه کلیک شوي ځای ته وړل کیږي.

Clipboard: په Clipboard کې ټولې هغه لیکنې چې Cut یا Copy شوې وي ښکاري.

Cut: د Cut په مرسته انتخاب شوې لیکنه له خپل ځای څخه لیرې او Clipboard ته وړل کیږي.

Copy: د Copy په مرسته انتخاب شوې لیکنه په خپل ځای هم پاتې کیږي او Clipboard ته هم وړل کیږي.

Format painter: د Format painter په مرسته د انتخاب شوې لیکنې Style یا Design بلې لیکنې ته هم وړل کیږي.





### Slide ګروپ:

New Slide: له New Slide سره نوي سلایډ زیاتیږي.

Layout: له Layout سره د Slide ډول بدلیږي.

Reset: له Reset سره د سلایډ Layout لومړني حالت ته بدلیږي.

Section: له Section سره سلایډونه په Section کې منظمیږي.




### Font ګروپ:

Font: د Font په مرسته انتخاب شوې لیکنې ته د خوښې شکل (Style) ورکول کیږي.

Font Size: د Font Size په مرسته د غوره شوې لیکنې اندازه لویه او کوچنۍ کیږي.

Increase font size: د Increase font size په مرسته د غوره شوې لیکنې اندازه په ترتیب سره غټیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Decrease Font Size:** د Decrease Font Size په مرسته د غوره شوې لیکنې اندازه په ترتیب سره کوچنۍ کیږي.

**Clear All Formatting:** د Clear All Formatting په مرسته انتخاب شوې لیکنې ته ټول ورکړل شوی ډیزاین لیرې کیږي.

**Bold:** د Bold په مرسته انتخاب شوې لیکنه ډبلیږي.

**Italic:** د Italic په مرسته انتخاب شوې لیکنه کږیږي.

**Underline:** د Underline په مرسته د انتخاب شوې لیکنې لاندې کرښه راځي.

**Text Shadow:** د Text Shadow په مرسته انتخاب شوې لیکنې ته سورې (Shadow) ورکول کیږي.


**Strike Through:** له Strike Through سره د لیکنې پر منځ باندې کرښه راځي، په دې مانا چې لیکنه غلطه ده.

**Character Spacing:** له Character Spacing سره د انتخاب شوې لیکنې د تورو ترمنځ فاصله زیاته او کمیږي.

**Change case:** د Change case په مرسته د غوره شوې لیکنې توري لویو او کوچنیو تورو ته بدلیږي.

**Font Color:** د Font Color په مرسته د انتخاب شوې لیکنې رنګ تغیریږي.

## Paragraph ګروپ:




**Bullets:** د Bullets په مرسته د نښو (سیمبولونو) والا لیست جوړیږي.

**Numbering:** د Numbering په مرسته د حساب (عددونو) والا لیست جوړیږي.

**Decrease List Level:** له Decrease List Level سره د Indent Level کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Increase List Level:** له Increase List Level سره د Indent Level زیاتیږي.

**Indent:** له Indent څخه هغه وخت ګټه اخیستلی شی، چې لېست فعال وي.

**Line Spacing:** د Line Spacing په مرسته د لیکنې د کرښو ترمنځ فاصله برابریږي.

**Alignment (Left, Center, Right):** د Alignment په مرسته د پاراګراف د پیل طرف ټاکل کیږي.

**Justify:** د Justify په مرسته د پاراګراف لیکنه له ښي او کیڼ دواړو طرفونو څخه منظمیږي.

**Left–to–Right text direction:** د Left–to–Right text direction په مرسته لیکنه له کیڼ څخه ښي لور ته لیکل کیږي، چې زیاتره د انګلیسي ژبې لیکنې د لیکلو لپاره کارول کیږي.

**Right-to-left text direction:** د Right-to-left text direction په مرسته لیکنه له ښي څخه کیڼ (چپ) لور ته لیکل کیږي، چې زیاتره د پښتو، دري او دا ډول نورو ژبو د لیکنې لیکلو لپاره کاریږي.


**Add or Remove Column:** د Add or Remove Column په مرسته لیکنه په کالمونو کې برابریږي.

**Text Direction:** د Text Direction په مرسته د لیکنې طرف برابریږي، لکه ښي نه چپ، پاس نه لاندې یا له لاندې څخه پاس خوا ته.

**Align Text:** د Align Text په مرسته په Textbox کې لیکنه پاس، منځ یا لاندې خوا کې برابریږي.

**Convert to SmartArt:** د Convert to SmartArt په مرسته انتخاب شوې لیکنه ته SmartArt بدلیږي.

## Drawing ګروپ:




**Shapes:** د Shapes په مرسته فایل ته بېلا بېل تیار جوړ شکلونه اضافه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**Arrange**: د Arrange په مرسته په Slide کې Objects یا شکلونه منظمیږي.

**Quick Styles**: د Quick Styles په مرسته انتخاب شوي Shape یا شکل ته تیار جوړ ستایلونه ورکول کیږي.

**Shape Fill**: له Shape Fill سره د Shape د منځ رنګ برابریږي.

**Shape Outline**: له Shape Outline سره د Shape د شاوخوا کرښې رنګ برابریږي.

**Shape Effects**: له Shape Effects سره Shape ته د خوښې مطابق بېلا بېل ډیزاینونه ورکول کیږي.




## Editing ګروپ:

**Find**: د Find په مرسته په خلاص شوي فایل کې یو توری یا کلمه کتل کیږي.


**Replace**: د Replace په مرسته په خلاص شوي فایل کې یو حرف یا کلمه په بل حرف یا کلمه بدلیږي.

**Select**: د لیکنې یا تصویرونو د انتخابولو لپاره کارول کیږي.

## Insert Tab

**New Slide**: له New Slide سره نوي سلایډ فایل ته اضافه کیږي.

**Table**: د Tables په مرسته فایل ته جدول اضافه او ډیزاین کیږي.




## Images ګروپ:

**Pictures**: د Pictures په مرسته له کمپیوټر څخه خلاص شوي فایل ته تصویر اضافه کیږي.


**Online Picture**: د Online Picture په مرسته له انټرنیټ څخه فایل ته تصویر اضافه کیږي.

**Screenshot**: د Screenshot په مرسته له خلاصو شویو پروګرامونو یا صفحې څخه تصویر اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Photo Album:** د Photo Album په مرسته له انتخاب شويو انځورونو څخه Presentation جوړيږي.




**Illustrations گروپ:**

**Shapes:** د Shapes په مرسته فايل ته بېلا بېل تيار جوړ شکلونه اضافه کيږي.

**Smart Art:** د Smart Art په مرسته بېلا بېل معلومات په تصويري يا گرافيکي بڼه ښودل کيږي.

**Chart:** د Chart په مرسته د عددونو ترمنځ پرتله (مقايسه) په گرافيکي بڼه ښودل کيږي.





**Links گروپ:**

**Hyperlink:** د Hyperlink په مرسته له خلاص شوي فايل څخه بل فايل سره اړيکه (Link) جوړيږي.

**Action:** د Action په مرسته د انتخاب شوي Object د Click لپاره عمل انتخابيږي.

**Comments:** د Comment په مرسته په انتخاب شوي ليکنه باندې تبصره (نظر) ليکل کيږي.




**Text گروپ:**

**Text Box:** د Text Box راوستلو لپاره کارول کيږي چې په مرسته يې د سلايډ په هر ځای کې د چوکاټ په داخل کې ليکنه کيږي.

**Header & Footer:** د Header & Footer په مرسته د فايل د ټولو سلايډونو په پاس او لاندې خوا کې ليکنه کيږي.

**Word Art:** د Word Art په مرسته ليکنې ته مختلف ډول ډيزاين ورکول کيږي.

**Date & Time:** د Date and Time په مرسته فايل ته وخت او نېټه اضافه کيږي.


**Slide Number:** د Presentation سلايډونو ته د نمبرو ورکولو لپاره کارول کيږي.

**Object:** د Object په مرسته له بل فايل (PDF, MS Excel, MS Word) سره اړيکه جوړيږي يا په خلاص شوي فايل کې ځای په ځای (Embed) کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




### Symbols گروپ:




**Equation:** د Equation په مرسته فایل کې ریاضیکي معادلې لیکل کیږي.

**Symbol:** د Symbol په مرسته فایل ته بېلا بېل سیمبولونه اضافه کیږي.

### د Media گروپ:




**Video:** د Video په مرسته سلایډ ته ویډیو (انځوریز فایل) اضافه کیږي.

**Audio:** د Audio په مرسته سلایډ ته غږیز فایل (Audio) اضافه کیږي.


**Screen Recording:** د Screen Recording په مرسته د کمپیوټر د سکرین ریکارډ فایل ته اضافه کیږي.

## Design Tab




**Themes** د Font Size ,Font Color ,Font مجموعه ده چې په کلیک سره یې په ټول Presentation کې همغه تغیرات راځي.


### Customize گروپ:




**Slide Size:** د Slide Size په مرسته د Slide اندازه برابریږي.

**Format Background:** د Format Background په مرسته د Background لپاره فارمټ یا ډیزاین انتخابیږي.

## Transition Tab





**Preview:** د Preview په مرسته د سلایډ Transition ښکاري.

**Transition to this Slide:** په مرسته یې د سلایډ د بدلېدلو په وخت کې سلایډ ته حرکت (Motion) ورکول کیږي.

**Effect Options:** د Effect Options په مرسته د Motion طرف مشخص کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






**Timing گروپ:**

**Sound:** د **Sound** په مرسته د **Transition** په وخت کې غږ اضافه کيږي.


**Duration:** د **Duration** په مرسته د **Transition** د ترسره کېدو وخت مشخص کيږي.

**Apply to all:** د **Apply to All** په مرسته د موجوده سلايډ **Transition** او وخت په ټول **Presentation** عملي کيږي.

**On Mouse Click:** راتلونکی سلايډ د موس په کلیک سره راځي.


**After:** راتلونکی سلايډ د مشخص شوي وخت له پوره کېدو وروسته په اتومات ډول راځي.

## Animation Tab




**Preview:** د **Preview** په مرسته د سلايډ **Animation** ښکاري.

**Effect Options:** د **Effect Options** په مرسته د **Animation** طرف مشخص کيږي.




**Advanced Animation گروپ:**

**Add Animation:** د **Add Animation** په مرسته انتخاب شوي **Object** ته **Animation** ورکول کيږي.


**Animation Pane:** د **Animation Pane** په مرسته د **Animation Pane** پاڼه خلاصيږي، چې په مرسته يې په **Animation** کې تغيرات راوستل کيږي.

**Trigger:** د **Trigger** په مرسته د **Slide Show** په وخت کې په انتخاب شوي **Object** باندې له کلیک سره د بل انتخاب شوي ابجیکټ **Animation** پیل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Animation Painter: د Animation Painter په مرسته له يو Object څخه Animation بل Object ته ورکول (Copy) کيږي.




**Timing گروپ:**

Start: د Start په مرسته د Animation د Play کولو وخت ټاکل کيږي.


Duration: د Duration په مرسته د Animation د جريان وخت ټاکل کيږي، يعني د Animation دې څو ثانيې وخت ونيسي.

Delay: د Delay په مرسته د Animation له Play کېدلو څخه وړاندې څنډ (Delay) برابريږي.

Move Earlier: د Move Earlier په مرسته انتخاب شوی Animation له نورو څخه وړاندې کيږي، يعني له نورو Animation څخه دې وړاندې Play شي.

Move Later: د Move Later په مرسته انتخاب شوی Animation له نورو څخه وروسته کيږي، يعني له نورو Animation څخه دې وروسته Play شي.

## Slide Show Tab




**Start Slide Show گروپ:**

From Beginning: د From beginning په مرسته Presentation له لومړي سلايډ څخه د Slide Show په ډول ښکاري.


From Current Slide: د From Current Slide په مرسته Presentation له موجوده سلايډ څخه د Slide Show په ډول ښکاري.

Present Online: د Present Online په مرسته Presentation په Online ډول ښودل کيږي.

Custom Slide Show: د Custom Slide Show په مرسته Presentation کې يوازې هغه سلايډونه د Slide Show په وخت کې ښکاري، چې په خپله خوښه انتخاب شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## Set Up گروپ:

**Set Up Slide Show:** د Set Up Slide Show په مرسته د Slide Show ترتیبات (Options) په خپله خوښه برابریږي.

**Hide Slide:** د Hide Slide په مرسته موجوده سلایډ پټیږي (Hide) یعنې د وړاندې کولو په وخت کې نه ښکاري.


**Rehearse Timing:** د Rehearse Timing په مرسته هر سلایډ ته د سلایډ د لیکنې مطابق وخت ټاکل کیږي. یعنې Presentation د Slide Show په ډول ښکاري، هر سلایډ چې څومره وخت په سکرین پرېښودل شي هغومره وخت سلایډ ته ورکول کیږي.

**Record Slide Show:** د Record Slide Show په مرسته Presentation او غږ ثبت (Record) کیږي.

**Play Narrations:** د Play Narrations په مرسته د Record Slide Show په مټ ثبت شوی غږ هم د Slide Show په وخت کې غږیږي (Play) کیږي.

**Use Timings:** د Use Timings په مرسته د Record Slide Show په مټ انتخاب شوی وخت سلایډونو ته ورکول کیږي.

**Show Media Controls:** د Show Media Controls په مرسته له غږیزو فایلونو سره د غږولو او نورو بټنې ښکاري.





## Monitors گروپ

**Monitor:** د Monitor په مرسته د Slide Show د ښودلو لپاره Monitor انتخابیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## Review Tab




**Proofing گروپ:**

**Spelling:** د **Spelling** په مرسته په لیکنه کې د **Spelling** غلطي په نښه کیږي.

**Thesaurus:** د **Thesaurus** په مرسته د انتخاب شوې کلمې مشابې کلمې ښکاري.


**Smart Lookup:** د **Smart Look**په مرسته د انتخاب شوې کلیمې په اړه د انټرنیټ په شتون کې له انټرنیټ څخه معلومات او عکسونه ښکاري.




**Language گروپ:**

**Translate:** د **Translate** په مرسته انتخاب شوې لیکنه بلې ژبې ته ژباړل کیږي.

**Language:** د **Language** په مرسته په متن کې د **Spelling** او **Grammar** د غلطي په نښه کولو لپاره ژبه انتخابیږي.




**Comments گروپ:**


**New Comment:** د **New Comment** په مرسته په انتخاب شوې لیکنه نظر لیکل کیږي.

**Delete:** د **Delete** په مرسته انتخاب شوی **Comment** لرې (**Delete**) کیږي.

**Previous:** د **Previous** په مرسته پورتنې **Comment** ته کرسر ځي.

**Next:** د **Next** په مرسته کرسر لاندنې **Comment** ته ځي.

**Show Comments:** د **Show Comments** په مرسته د لیکنې ترڅنګ ټول **Comments** هم ښکاري.




**Compare گروپ:**

**Compare:** د**Compare** په مرسته خلاص شوی **Presentation** له بل **Presentation** سره پرتله کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Accept:** د Accept په مرسته ټاکل شوی بدلون منل کیږي.


**Reject:** د Reject په مرسته ټاکل شوی بدلون ردیږي.

**Previous:** د Previous په مرسته پورتني بدلون ته کرسر ځي.

**Next:** د Next په مرسته لاندني بدلون ته کرسر ځي.

**Reviewing Pane:** د Reviewing Pane په مرسته په فایل کې ټول تغیرات د نوملړ (لیست) په ډول ښکاري.

**End Review:** د End Review په مرسته د دوه فایلونو پرتله کول چې تغیرات یې ښکاري لرې کیږي.




## View Tab

### Presentation View ګروپ:

**Normal:** له Normal سره Presentation کې په ترتیب سره سلایډ په سلایډ تغیر راوستل کیږي، یعنې په عادي ډول ښکاري.


**Outline View:** له Outline View سره د Presentation د ټولو سلایډونو عنوانونه، لیکنې، ایکن او نمبر ټول په Outline Tab کې ښکاري، زیاتره هغه وخت کاریږي چې کله د ټول Presentation په لیکنه باندې بیا کتنه (Review) کیږي.

**Slide Sorter:** د Slide Sorter په مرسته د Presentation سلایډونه منظمیږي، یعنې کوم سلایډ په کوم ځای کې راشي؟ یا د خوښې مطابق سلایډونه Sort کیږي.

**Notes Page:** د Notes Page View په مرسته د Presentation له هر سلایډ سره اړوند نوټ هم ښکاري، یعنې له Note Page سره چې Presentation څنګه پرینټ کیږي، په هغه ډول ښکاري.

**Reading View:** له Reading View سره Presentation د Slide Show په ډول له Full Screen څخه غیر ښکاري.

### Master Views ګروپ:




(c) ketabton.com: The Digital Library


**Slide Master:** د Slide Master په مرسته د ټول Presentation ډیزاین برابرېږي. د مثال په ډول رنګ، لیکبڼه، بکراونډ او دا ډول نور...

**Handout Master:** د Handout Master View په مرسته د Handout Master په شکل کې تغیرات راوستل کیږي، یعني هیډر، فوټر، پېج نمبر او تاریخ دې کې ښکاره شي که نه، په کوم ډول دې ښکاره شي؟ په یوه پاڼه کې دې څو سلایډونه پرېنټ شي او دا ډول نور.

**Notes Master:** د Notes Master په مرسته Presentation او اړوند نوټ یې د پرېنټ لپاره برابرېږي، یعني په کوم ډول دې پرېنټ شي، هیډر او فوټر دې ولري؟




**Show ګروپ**


**Ruler:** له Ruler سره د Power Point په صفحه کې خط کش ښکاري.

**Gridline:** له Gridline سره د Power Point په صفحه کې د چوکاټ په ډول کرښې راځي چې په مټ یې Object په اساني سره د سلایډ په منځ کې برابرېږي.

**Guides:** له Guides سره د سلایډ په منځ کې دوه خطونه راځي چې په مرسته یې Object په سلایډ کې په اساني سره Align کیږي.

**Notes:** د Note په مرسته د سلایډ په اړه د سلایډ څخه لاندې معلومات لیکل کیږي.

**Zoom ګروپ:**





**Zoom:** له Zoom سره سلایډ د خپلې خوښې مطابق نږدې او لرې کیږي.

**Fit to window:** له Fit to window سره سلایډ په صفحه (Window) کې برابرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







## Color/Grayscale ګروپ:

Color: له Color سره په Presentation کې کاريدلي رنګونه په خپل ډول ښکاري.

Grayscale: له Grayscale سره Presentation په Grayscale ډول ښکاري.

Black and White: له Black and White سره Presentation په تور او سپين ډول ښکاري.




## Window ګروپ:

New Window: د New Window په مرسته د خلاص شوي فايل دويمه Windows خلاصيږي.

Arrange All: د Arrange All په مرسته د MS Power Point ټول خلاص شوي فايلونه په يو وخت کې ښکاري.

Cascade: د Cascade په مرسته د MS Power Point ټول خلاص شوي فايلونه په ترتيب سره د يو بل پر مخ ښکاري.

Move Split: د Move Splitter په مرسته له Arrow Keys سره د Windows مختلف Panes لوی او کوچني کيږي.

Switch Windows: د Switch Windows په مرسته د MS Power Point خلاصو شويو فايلونو ترمنځ له يوه څخه بل ته په اساني او تيزي سره تللی شو.

mnoormuslim@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**